**د۱۳۸۴کال رپوټ**

**دکنترول او پلټنې ادارې د۱۳۸۴کال په اوږدو کې پلټنې او فعالیتونه تر سره کړي چې دلنډیز یې په لاندې توګه وړاندې کیږي:**

ترپلټنو لاندې مراجعې ۷۳۳ مرجعې مرکزي او سیمه ایزې ادارې پکښې شامل دي

پلټل شوې مراجعې ۵۷۳ مراجعې

هغه مراجعی چې پلټل شوې ندي ۱٦۰ مرجعی دامنیتي نامساعدو شرایطو له امله

هغه رپوټونه او دوسیې چې ددولت دحقونو دتحصیل او تحقق په موخه اړونده ادارو ته ابلاغ شوې (٦٤۹) رپوټونه دي .
هغه مبالغ چي دپلټنو په پایله کې د مالیې نه وضع کولو،صکوک ،کمیشن، ټکس، کرایې، دپیسو دتسعیر توپیر، دقرارداونو دفیات تجدید او داسې نورو مدارکو څخه ددولت خزانې ته دتحصیل وړ دي مبلغ ۷۳۱ ملیونه افغانی کیږي.
لوی څارنوالي ته لیږل شویو دوسیو تعداد (۲۰) دوسیې دي.
په دوسیو کې شامله وجوه مبلغ ۸۰ ملیونه افغانی.

مبلغ (۳۳٦) ملیونه افغانی دپلټنو او داطمینانیوله اصولو څخه له مراجعو څخه ددولت خزانې ته لیږل شوي دي .
مبلغ (۲۷) ملیون افغاني د ادارو دکړنوپه صورت کې چې موږ ته یې له مراجعو څخه ډاډ را کړی تصفیه شوې دي .

په ۱۳۸۴مالی کال کې دلندن د PKF کمپنی په همکارۍ چې دبهرنی پلټنې دوړتیا دلوړوالی مسولیت یې په غاړه درلود دانګلیسی ، کمپیوټر او پلټنې کورسونه یې پرانیستل (۱۶) تنه پلټونکي دانګلیسي ژبې له کورسونو (۳۵) تنه دکمپیوټر او ۱۳۲تنه دمسلکي پلټنې له کورسونو څخه برخمن شول او(۶) تنه نور دزدهکړئیزو ورکشاپونو دزده کړې په موخه هیواد څخه بهر اعزام شوي.
همدارنګه دپلټنو دپایلو توحیدي رپوټونه ترتیب چې پکښې (۲۳) مورده تیروتنې دادارو په کړنو کې ځانګړې شوې اود سمون په موخه یې (۱۳) مورده اصلاحي سپارښتنې او څرګندونې وزارتونو او ادارو ته لیږل شوې دي د نړیوال بانک WB پروژو ، دملګرو ملتونو پراختیا یي دفتر UNDP او دافغانستان دبیا رغونې لپاره دمرستو صندوق ARTF دلګښتونو بر سیره دکنترول او پلټنې ادارې له لوري د دلندن د PKF کمپنی په همکارۍ تر پلټنو لاندې نیول شوي او دپلټنو دپایلو رپوټ یې اړونده مراجعو ته استول شوی ده

همدارنګه د۱۳۸۳کال قطعیه حساب هم تر پلټنو لاندې ونیول شو دځینو نیمګرتیاو له امله دعادي او پراختیا قطعیه کې دتائید وړ ونګرزیده .

قطعیې ته په کتو سره پدې کال کې دعادي بودجې نه لګول شوې وجوه (۲،۲۸) ملیارد او د پراختیایي بودجې (۱۸،٤۳) ملیارد افغانی په بر کې نیسي چې په ترتیب سره دنه لګولو سلنه یې (۷،۸) او(٤۸،٦) سلنه ده.

ددې کال په اوږدو کې (۱٤۸) تنه کارکونکي داداري اصلاحاتودآزاده سیالۍ او ریفورم له لارې په دنده ګمارل شوی دي

په همدې ترتیب سره د ادارې نړیوالې اړیکې دانتوسای ، ایکوسای ، اسوسای پلټنو سازمانونواود ځینو نورو هیوادونو دپلټنې ادارو سره پراختیا موندلې ده.